# NAAR NEDERLAND

## HANDLEIDING

بشتو




www.naarnederland.nl

# پښتو

## ۱. سرليکه

هغه يو شمېر خلکو چې د ۶۰۰۲ کال د مارچ د مياشتې د پنځلسمې (۵۱) نېټې څخه وروسته نوی هالينډ ته راځي او غواړي چې د اوږدې مودې لپاره دلته پاتي شي او اوږد مهالې ويزې ته اړتيا لري، بايد له راتګه څخه مخکې په بهر کې دې د هالينډ د ټولنې سره د بلديدلو لمړنيزه آزموينه سر ته ورسوي. دلته هدف د هغه کسانو څخه دی چې عمرونه يې د ۸۱ او ۵۶ کلنو په منځ کې وي او غواړي چې داسې يو کس سره چې په هالينډ کې ژوند کوي واده وکړي او يوه کورنۍ جوړه کړي يا هغه کسان چې غواړي د خپلو د کورنيوغړو سره چې په هالينډ کې مېشت دي يوځاي شي او ورسره ژوند وکړي. همدا ډول هغه يو شمير کسان چې مذهبی دندې لري، لکه ملاامام او موعظ او هالينډ ته د کار لپاره راځي، مکلف دي چې د هالينډ د ټولنې سره د بلديدلو لمړنيزه آزموينه سر ته ورسوي.

د زدکړې په دغه مجموعې کې تاسو کولای شئ چې په خپله د هالينډي ژبې بنسټيزه پوهه خپله کړئ او همداشان د هالينډ ټولنه و پيژنئ. ددې خبرو په څنګ کې تاسو کولای شئ چې ددې لاربښودونکې مجموعې په مرسته د آزموينې لپاره ځان چمتو کړئ. پدې لاربښودونکې مجموعې کې تاسو ته د آزموينې د دربو برخو په هکله معلومات درکول کيږي. تاسو به داهم ولولئ چې په هرې برخې لپاره کوم عمل سرته ورسوئ. ددې په څنګ کې به تاسو ته لازمې مشورې درکړل شي چې د ژبې کومو وړتياوې ته اړتيا لرئ ترڅو آزموينه سرته ورسوئ او څنګه کولای شئ چې د آزموينې لپاره ځان چمتو کړئ.

تاسې کولای شئ چې د زدکړې د مجموعې په مرسته په مستقله توګه زدکړې وکړئ او همداشان د خپلې ميرمن/ خاوند په مرسته چې د اوږدې مودې څخه په هالينډ کې ژوند کوي د آزموينې لپاره د چمتو کيدلو په موخه مرسته وغواړئ. دا لاربښودونکې مجموعه په ګډه ولولئ،
د زدکړې مواد په ګډه وګورئ، د زدکړې يو پلان جوړ کړئ، يوبل سره پدې هکله خبرې وکړئ چې د زدکړې د کومې طريقې څخه کار واخلئ او ددې په څنګ کې درسونو د لوستلو چټکتيا مو وټاکئ. خپلې ميرمنې/خاوند ته د زدکړې د بهير په هکله معلومات ورکړئ او د هغې يا هغه څخه د زدکړې په هکله مشوره واخلئ.

## ۲. آزموينه

### څه شئ آزمويل کيږي؟

دهاليندې ژبې او ټولنې د پيژندنې لمړنيزه آزموينه چې په بهر کې آزمويل کيږي د دربو برخو څخه جوړه شوې ده. کچيرې تاسو غواړئ چې پدې آزموينې کې بريالي شئ، بيا لازمه ده چې په دربواړو برخو کې د قناعت وړ پايلې لاسته راوړئ. کچيرې تاسو په يوې برخې کې بريالي نشوئ بيا لازمه ده چې تکراراً آزموينه سر ته ورسوئ.

### ۱. د هالينډ د ټولنې په هکله د پوهې آزموينه (KNS) (Kennis van de Nederlandse Samenleving)

د هالينډ د ټولنې په هکله د پوهې آزموينه د آزموينې داسې يوه برخه ده چې په هغې کې د هالينډ د ټولنې په هکله پوهنيزې پوښتنې کيږي. تاسو بايد دې پوښتنو او تصويرونوته په هالينډي ژبه ځواب ورکړئ.

### ۲. د هالينډي ژبې لفظي آزموينه (TGN) (Toets Gesproken Nederlands)

پدې برخې کې ټول لفظي وړتياوې لکه (اوريدل او خبرې کول) آزمويل کيږي. د هالينډي ژبې د اوريدلو او خبرې کولو لازمه بنسټيزه سويه A1 ګڼل کيږي. دا هغه سويه ده چې د اروپايی معيارونو پر بنسټ د مودرنو بهرنيو ژبو لپاره کارول کيږي.

### ۳. د سواد د درلودلو او په لوست کې د مفهوم د اخيستلو آزموينه (GBL) (Geletterdheid en Begrijpend Lezen)

هاليندی ژبه په لاتيني تورو(الفبا) ليکل کيږي. د سواد د درلودلو او په لوست کې د مفهوم اخيستلو د آزموينې په مرسته ليدل کيږي چې آيا تاسو کولای شئ چې په A1 سويه هالينډي ولولئ، کوم چې دبهرنيو ژبو لپاره اروپايی معيار ګڼل کيږي.

## ۳. د دغې درسې موادو محتوا

د دغې زدکړې مجموعې په مرسته تاسو کولای شئ چې خپله ځان په مستقله توګه د دربو آزموينو لپاره چمتو کړئ. پدې مجموعې کې لاندنې مواد ستاسو د مستقلې زدکړې لپاره موجود دي:

- د زدکړې لاربښود پاڼې او د اوريدلو سی ډی (CD)
- دې فې دې (DVD) يا د ويديو فلم *Naar Nederland*
- د انځورونو کتاب *Naar Nederland* او د اوريدلو سی ډی (CD)
- د ليکنې لپاره کتاب (کاری کتاب) *Naar Nederland*، د هالينډي ژبې زدکړه د بهرنيانو لپاره او سی ډی ګانې (CD) د اوريدلو لپاره.

- دي في دي (DVD) د ډیجیټال سپارېښتنو (تمرینونه) پروګرام سره
- ځانګړي کوډ چې دهغې په مرسته د انټرنټ له لارې د سپارېښتنو (تمرینونه) پروګرام ته لاره پیدا کوئ.
- ۲ (TIN) کوډونه (د آزموینې د موندلو ځانګړې شمېره) د TGN آزموینې د تمرین کولو لپاره.
- ۲ (TIN) کوډونه (د آزموینې د موندلو ځانګړې شمېره) د GBL آزموینې د تمرین کولو لپاره.

## ۴. د(KNS) آزموینې لپاره ځان چمتو کول

### هغه فلم چې Naar Nederland په نامه یادیږي

د KNS د آزموینې پربنسټ ستاسې پوهه د هالینډ په هکله آزمویل کیږي. په هغه څه باندې چې تاسو باید پوه شئ هغه د *Naar Nederland* په نامه فلم کې ثبت شوي دي. پدې فلم کې تاسو دا ګورئ چې په هالینډ کې خلک په څه ډول ژوند کوي، په هالینډ کې خلک څنګه د یو بل سره چلند کوي او دهغوي دود او دستور څه دي. تاسو به همداشان ځینې عملي چارې زدکړې، کوم چې ستاسو د ژوند لپاره په هالینډ کې ګټه ور دي. ددې فلم نندارہ تقریباً ۱۱۰ دقیقې وخت نیسي او په لاندنیو برخو ویشل شوی دی:

۱. جغرافیه او ژوند
۲. تاریخ
۳. سیاست او اساسي قانون
۴. هالینډي ژبه او د زدکړو چارې
۵. ښوونه او روزنه
۶. روغتیایې چارې
۷. کار او عاید
۸. زه څنګه کولای شم چې په سفارت کې آزموینه سرته ورسوم؟

### د تصویرونو کتاب او سل (۱۰۰) پوښتنې

هغه فلم چې *Naar Nederland* په نامه یادیږي د تصویرونو یو اړوند کتاب او د اوریدلو سی ډی (CD) لري. د تصویرونو په کتاب کې تاسو کولای شئ چې ۱۰۰ قطعه تصویرونه چې د شمېر په ترتیب تنظیم شوي دي د فلم انځور سره سم وګورئ. د هرتصویر په هکله یوه پوښتنه وړاندې کیږي او دا پوښتنه تاسو په عین ترتیب په سی ډی (CD) کې اورئ. دا پوښتنې په هالینډي ژبې وړاندې کیږي او تاسو باید دې پوښتنو ته په هالینډي ژبې کې ځواب ورکړئ. تاسې کولای شئ چې د تصویرونو په کتاب کې او په سی ډی (CD) کې ټولو پوښتنې او ځوابونه ولولئ او واورئ. کله چې تاسو آزموینه سرته رسوئ باید په ټولو ځوابونو باندې پوه شئ.

آزموینه د دیرشو (۳۰) پوښتنو څخه جوړه شوی ده. دا پوښتنې د هغه سلو (۱۰۰) پوښتنو څخه انتخاب شوې دي چې د تصویرونو په کتاب او سی ډی (CD) کې راغلې دي.

### لارښوونه

په شپږو واړه دي في دي (DVD) ګانو کې چې په پارسل کې موجود دي یوازې یو فلم لیدل کیږي. ۱، ۲ او ۳ دي في دي DVD ګانې د PAL/SECAM سیستم لپاره مناسبه دي. ۴، ۵ او ۶ دي في دي DVD ګانې د NTSC سیستم لپاره مناسبه دي. تاسوهغه دي في دي DVD ګانې انتخاب کړئ کوم چې ستاسو د هیواد د سیستم لپاره مناسبه وي. ددې موضوع د معلوم کولو لپاره تاسو کولای شئ چې د خپلې دي في دي DVD لارښود پاڼه ولولئ او یا پدې برخې کې د معلومات د لاسته راوړو لپاره www.naarnederland.nl ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ.

په دي في دي DVD کې د مرستندویه ژبو نومونه لیکل شوی دي: هالینډي، معیاري عربي، مراکشي عربي، چینایي، دري، انګریزي، فرانسوي، بهاسا (اندونیزیایي)، کُردی (کُرمانچي)، پښتو، پرتګالي، روسي، هسپانوي، تاریفیت/ریف بیربري، تایلنډي، ترکي، معیاري سومالیایي، اوردو او ویتنامي. تاسو هغه دي في دي DVD انتخاب کړئ کوم چې ستاسو په مرستندویه ژبه وي. تاسو کولای شئ چې دا ژبه د دي في دي DVD د مینو یا فهرست د تنی له طریقه فعال کړئ. پدې توګه تاسو دا هم کولای شئ چې دي في دي DVD داسې فعال کړئ چې فلم په مکمل توګه او یا هر مضمون په بېله توګه وګورئ.

د آزموینې د ښه چمتو والي لپاره لاندني دندې سر ته ورسوئ:

۱. په خپلې مرستندویه ژبې کې فلم څو ځله وګورئ، ترڅو په محتوا باندې ښه پوه شئ.
۲. وروسته بیا فلم په هالینډي ژبه وګورئ.
۳. د فلم هر مضمون یا موضوع په انفرادي توګه په خپلې ژبې او وروسته په هالینډي ژبې وګورئ.
۴. د تصورونو د کتاب د پوښتنو په مرسته د هر مضمون یا موضوع په انفرادي توګه تمرین کړئ.
۵. د سی ډی (CD) پوښتنو ته غوږ ونیسئ او ځوابونه ورپسې تکرار کړئ.
۶. کاغذ لیرې کړئ او یوازې تصویرونو ته وګورئ. (د آزموینې په مهال هم یوازې د تصویرونو کتاب تاسو ته درکول کیږي او په عین حال کې پوښتنې اورئ).
۷. ټولې پوښتنې تر هغه اندازې پورې تمرین کړئ ترڅو وشئ کولای چې ټول ځوابونه په ښه توګه تلفظ کړئ.
۸. ټولې پوښتنې ګډ وډ تمرین کړئ، نظم او ترتیب یکښې مه مراعات کوئ.

۹.   د تمرين په مهال په لوړ آواز خبري وکړئ.
۱۰.  د ټليفون په کرښه د خپلې ميرمنې / خپل خاوند سره او يا يو بل کس سره چې هالينډي خبري کوي تمرين وکړئ. پدې حالت کې خپل تلفظ ته پام ونيسئ، هڅه وکړئ چې په واضيح توګه تلفظ وکړئ او ډير په کراره تلفظ مه کوئ.
۱۱.  د آزموينې پيل هم تمرين کړئ. تاسو داسې اورئ: ' Zeg de naam van de stad en het land waar u nu bent' تاسې د خپل د ښار او هيواد نوم واخلئ.
۱۲.  تاسې يو ځل بيا په هالينډي ژبه فلم وګورئ. اوس چې تاسو په پوښتنو باندې پوهيږئ، کيداشي چې د فلم څخه ډير مفهوم واخلئ.

د ژبې د دوهو آزموينو په تناسب د KNS د آزموينې د چمتو کيدلو لپاره لږ وخت ته اړتيا لرئ. ښه به دا وي چې د ټولو برخو لپاره په ترکيبي توګه ځان چمتو کړئ. په هغه فلم کې چې Naar Nederland په نامه ياديږي ډيرې کليمې اوريدل کيږي، کوم چې د ژبې په آزموينې کې کارول کيږي. کله چې تاسو ددې فلم هالينډي نقل ته ډير وګورئ او واورئ، بيا به تاسو د هالينډي ژبې د کليمو آوازونو سره بلد شئ.

## ۵.  د آزموينو لپاره چمتو والي

### د کار کتاب او الکترونکي زدکړه

کچيري تاسو د هالينډي ژبې درسونه د وړاندې شوي پارسل د موادو په مرسته تعقيب کړئ، بيا به تاسو لوستل، اوريدل او خبري کول په يو وخت زده کړئ. پدې حالت کې تاسو کولای شئ چې خپل ځان د دواړو آزموينو لپاره (TGN او GBL) چمتو کړئ. مخکې له هغه څخه چې تاسو د TGN او GBL د آزموينو لپاره د چمتو والي چارې پيل کړئ، لازمه ده چې پدې پوه ووسې چې سواد بايد ولرئ. هالينډي ژبه لکه انګريزي، اسپانيوي، فرانسوي او پرتګالي ژبو په لاتيني الفبا يا توري ليکل کيږي. په لمړنيو شلو (۲۰) درسونو کې تاسو ته لاتيني رسم الخط او د هالينډي ژبې ټول صوتونه يا آوازونه در زده کيږي. تاسو ته دا زده کيږي چې د الفبا د تورو څخه څنګه کليمې جوړي کړئ او دا کليمې کوم آواز ورکوي. ددې په څنګ کې تاسو بيلابيلو هالينډي کليمو سره بلد کيږئ.
هغه يو شمير کسان چې په خپلې ژبې کې د سواد خيښتن دي او په لاتيني تورو پوره پوهيږي، کولای شي چې د ۱۲ درسه څخه پيل وکړي. موږ تاسو ته دا مشوره درکوو چې د لمړني درس څخه تر څلورم درسه او په شلم درس باندې پوه ووسئ. پدې درسونو کې د هالينډي د ژبې صوتونه يا آوازونه او د تورو تمرين سر ته رسيږي.
تاسو کولای شئ چې زدکړې په دوهو طريقو سرته ورسوئ:

۱.   تاسو کولای شئ چې د کار د کتاب درسونه او د اوريدلو سی ډی CD لارښودنې تعقيب کړئ.

د ۵۶ درسونه په مرسته تاسې کولای شئ چې په خپله په مستقله توګه د هالينډي ژبې کورس تعقيب کړئ. پدې برخې کې تاسي لوست، اوريدل او خبري کول زده کوئ. ددې عمل د سرته رسولو لپاره تاسو د سی ډی CD د غږولو وسيلې (سی ډی CD پلې ير) ته اړتيا لرئ.

۲.   تاسو کولای شئ چې د خپل د کمپيوټر له طريقه زدکړې وکړئ.

کچيري تاسو کمپيوټر ولرئ کولای شئ چې دهغه تمرينونو د پروګرام څخه کار واخلئ کوم چې د کمپيوټر لپاره دي.
پدې پروګرام کې هغه درسونه موجود دي کوم چې په کتاب کې ليدل کيږي. تاسو کولای شئ چې د دی في دی DVD په مرسته د تمرينونو دا پروګرام په خپل کمپيوټر کې ثبت کړئ. تاسو داهم کولای شئ چې د تمرينونو پروګرام د انټرنټ له طريقه تعقيب کړئ (ددې طريقې د پيلولو لپاره د ځانګړې کود څخه کار واخلئ). د انټرنټ له طريقه د پروګرام د تعقيب کولو ګټه داده چې ستاسو خاوند/ميرمن هم کولای شي چې تاسو سره په ګډه ستاسو د پرمختګ بهير وګوري. ددې په څنګ کې تاسو کولای شئ چې تمرينونه تر هغه اندازې پورې چې ستاسو خوښه وي تکرار کړئ.

طبعاً چې تاسو کولای شئ چې د دې دواړو طريقو يو ترکيب ځانته جوړ کړئ.

### د کار کتاب په هکله لارښودنه

**عمومي**

- زدکړې د هغه چا سره سر ته ورسوئ چې هالينډي ژبه يې زده وي. پدې توګه تاسو کولای شئ چې کنټرول کړئ چې آيا ستاسو تلفظ سم دی او که نه.
- ستاسو خاوند/ ميرمنه کولای شي چې د لغتونو د ژباړلو په برخې کې تاسو سره مرسته وکړي. تاسو يا ستاسو خاوند/ميرمنه کولای شي چې د لغتونو يو لست چې ستاسو په مرستندويه ژبه دی د www.naarnederland.nl ويب پاڼې له طريقه ومونډئ او چاپ يې کړئ.
- هغه لارښودنې چې د تمرين په شروع کې ليکل شوي دي هغه ته ښه وګورئ او هغه ولولئ. هغه انځور چې د بيلګې په توګه انځور شوي هغې ته وګورئ.
- دا لازمه نده چې ټول کسان ټول تمرينونه سرته ورسوي. کچيري تاسو د سواد خاوند ونه اوسئ، په ټيټه او يا متوسطه کچه مو زدکړې کړې وي بيا کولای شئ چې د نارنجي رنګه برخو څخه پرته له زدکړې واوړئ. همداشان لازمه نده چې هغه تمرينونه چې په نارنجي شکله ستوری نښه شوي وي هغه وليکئ. ☆
- توصيه: پنسل وکاروئ. څکه چې کولای شئ چې تمرينونه اصلاح کړئ. او يو ځل بل يې سرته ورسوئ.

**د بې سوادانو او هغه کسانو لپاره چې لږ سواد لري**

- په لمړنيو شلو (۰۲) درسونو کې تاسو ته لاتيني رسم الخط او د هالينډي ژبې ټول صوتونه يا آوازونه در زده کيږي. کچيرې تاسو د سواد د زدکړې پروګرام سرته رسولی وي، بيا کولای شئ چې په هالينډي ژبې کې ابتدايي لوست سرته ورسوئ.
- د ۱۲ درس څخه وروسته تاسو کولای شئ هالينډي لغتونه او جملې ووايئ، يې پوه شئ او لوست وکړئ. وروسته له ۵۶ درسه څخه تاسو کولای شئ چې دواړه تمريني آزمويني سرته ورسوئ.

**د هغه کسانو لپاره چې لاتيني الفبا يا توري يې زده دي**

- د ۱ درسه څخه تر ۴ درسه پورې تاسو د هالينډي ژبې صوت يا آوازونه زده کوئ او ۰۲ درسه څخه وروسته تاسو هالينډي الفبا سره معرفي کيږئ.
- د ۱۲ درس څخه وروسته تاسو هالينډي لغتونه زده کوئ، جملې تلفظ کوئ، اورئ او لوولئ. وروسته له ۵۶ درسه څخه تاسو کولای شئ چې دواړه تمريني آزمويني سرته ورسوئ.

## د الکترونيکي زدکړې لپاره لارښودنه

- هغه لارښودنه چې د هر تمرين څخه مخکې ليکل شوي ده هغه وګورئ يا ولولئ. تاسو کولای شئ چې دا لارښودنه وروسته له هغه چې د کوچنی لاودسپيکر په تصوير باندي مو کليک (کښې کاګل) وکړ په خپله ژبه واورئ. همداشان هغه بيلګو ته چې تمرينونه يې پيل کيږي ښه وګورئ.
- زدکړې د هغه چا سره سر ته ورسوئ چې هالينډي ژبه يې زده وي، د بيلګې په توګه د خپل خاوند/ميرمنې سره او يا داسې کوم بل کس چې د ستاسو په نږدې چاپيريال کې اوسيږي. پدې توګه تاسو کولای شئ چې کنټرول کړئ چې آيا ستاسو تلفظ سم ده او که نه. دا کس کولای شي چې د کوډ د کارولو څخه وروسته د انټرنټ له لارې تمريني پروګرام وګوري او وګوري چې ستاسو درسونه چيرته رسيدلي دي.

## د تصويرونو د تمرين په برخې کې لارښودنه

| | |
|---|---|
| ولولئ/وګورئ/ليدل کيږي | غږ |
| تکرار کړئ/ ولولئ/ په لوړ آواز ولولئ | کليک وکړئ/ انتخاب وکړئ |
| واورئ/غوږ ونيسئ | شمېر |
| وښايئ/انتخاب کړئ | د کين څخه ښی ته |
| دايره وباسئ | د پاسه څخه کښته |
| يوه کرښه وباسئ | پوښتنه |
| يوه کليمه اضافه کړئ | تناقض |

# ۶. د کار اخيستلو لپاره تخنيکي لارښودنې د الکترونيکي زدکړو لپاره

## د Naar Nederland الکترونيکي زدکړو پيل کول

د Naar Nederland په برخې کې په دوه طريقو د کمپيوټر د پروګرام څخه کار اخيستل کيږي: (۱) د انټرنټ يا آنلاين او (۲) د دي في دي DVD په مرسته.

**۱. الکترونيکي زدکړه د انټرنټ په مرسته**

- د انټرنټ له طريقه د الکترونيکي زدکړو لپاره يوازې يو کمپيوټر او انټرنټ امکاناتو ته اړتيا شته.
- د انټرنټ پاڼه خلاصه کړئ.
- www.naarnederland.nl پاڼې ته مراجعه وکړئ.
- په inloggen e-learning باندې کليک وکړئ.
- هغه کوډ چې د inloggen e-learning په کاغذ کې ليکل شوی ده هغه په کمپيوټر کې ولیکئ
- هغه لارښودنې چې د کمپيوټر د پردې لخوا درکول کيږي هغه عملي کړئ.

**۲. الکترونيکي زدکړه د دي في دي DVD په مرسته**

- د دي في دي DVD د کارولو لپاره تاسو داسې يو کمپيوټر ته اړتيا لرئ کوم چې د دي في دي DVD د غږولو امکانات ولري.
- د Naar Nederland e-learning - دي في دي DVD په کمپيوټر کښې وردننه باسئ.
- د الکترونيکي زدکړو پروګرام په خپله اوتومات پيل کيږي. کيدای شي چې څو دقيقې وخت ونيسي.
- هغه لارښودنې چې د کمپيوټر د پردې لخوا درکول کيږي هغه عملي کړئ.

وروسته له هغه ځخه چي تاسو د الکترونيکي زدکړو پروګرام پيل کړه، بيا هغه پاڼه ستاسو د کمپيوټر په پردې کي څلاصيږي په کوم کي چي ستاسو شخصي ځانګړتياوې ثبت دي.

پدې پردې کي تاسو کولای شئ چي (۱) خپل نوم وليکئ، (۲) د مرستي لپاره يوه ژبه انتخاب او (۳) د زدکړو لاره انتخاب کړئ.

تاسو کولای شئ چي د زدکړو دري بيلابيلو لاري انتخاب کړئ.

- **د زدکړي ۱** لاره: هغه کسان چي سواد نلري، هغه کسان چي په بل ډول سواد لري او ټول هغه کسان چي د ۶ کالونو ځخه لږ زدکړي کړي دي.
- **د زدکړي ۲** لاره: ټول هغه کسان چي ځو کاله يي متوسطه زدکړي کړي وي او لاتين رسم الخط يي ښه زده وي.
- **د زدکړي ۳** لاره: ټول هغه کسان چي لوړي زدکړي کړي وي او لږ تر لږه متوسطه زدکړي بشپړه کړي وي او لاتين رسم الخط يي ښه زده وي.

کچيري تاسو شکمن ووسئ کولای شئ چي د زدکړي لمړۍ لاره انتخاب کړئ. کچيري د زدکړي دا لاره ستاسو لپاره چټکه يا ورو وي تاسو هرکله کولای شئ چي د خپل د زدکړي لاره بدله کړئ.

کچيري تاسو د الکترونکي زدکړو په هکله پوښتني ولرئ کولای شئ چي د Naar Nederland ويب پاڼي ته مراجعه وکړئ. تاسو کولای شئ چي د Naar Nederland د ليکني لاندي د ټولو مهمو پوښتنو ځوابونه پيدا کړئ.

## ۷. د TGN او GBL لپاره تمريني آزموينې

کچيري تاسو ټول درسونه لوستلي وي بيا په کافي اندازه په هالينډي پوهيږئ ترڅو تمريني آزموينې سرته ورسوئ. دا مهمه ده چي تاسو پدې باندي پوه شئ چي په آزموينې کي څه ډول پوښتني ستاسو ځخه کيږي. د کار د کتاب او د کمپيوټر د پروګرام په مرسته تاسو تمرينونو سر ته رسولي دي. د وروستني چمتو کيدو د يوې برخي په عنوان کولای شئ چي دوه تمريني آزموينې سر ته ورسوئ، کوم چي د اصلي آزموينې سره ورته والي لري.

### د تمريني آزموينې په هکله عمومي معلومات

اصلي آزموينه د تليفون په کرښه سرته رسيږي. د کمپيوټر په ذريعه ثبت شوی غږ تاسو ته لارښودنه کوي چي څه بايد وکړئ او همداشان ستاسو ځوابونه ثبت وي. دا چي دا موضوع څنګه مخته ځي تاسو کولای شئ د*Naar Nederland* فلم په ۸ فصلونو کي وګورئ.

د TGN او GBL تمريني آزموينې لږ لنډ دي، مګر نور لکه د اصلي آزموينې په شان مخته ځي. د تمريني آزموينې په مرسته تاسو کولای شئ چي دا تجربه کړئ چي اصلي آزموينه به څنګه مخته لاړه شي. د TGN تمريني آزموينې په مرسته تاسو کولای شئ چي دا معلوم کړئ چي آيا تاسو په کافي اندازه هالينډي پوهيږي او خبري کولای شئ ترڅو د TGN اصلي آزموينه سرته ورسوئ. د GBL تمريني آزموينې په مرسته تاسو کولای شئ چي دا معلوم کړئ چي آيا تاسو په کافي اندازه هالينډي لوستلی شئ ترڅو د GBL اصلي آزموينه سرته ورسوئ. ددې موضوع په څنګ کي، وروسته له تمريني آزموينې تاسو ته دا معلومات کيږي چي د ويب پاڼي له طريقه ستاسو د برياليتوب امکانات تر کومي اندازې پورې دی. تاسي کولای شئ چي د TGN تمريني آزموينه د TIN کوډ په مرسته چي د TGN د زدکړي په پارسل کي ده سرته ورسوئ.
همداشان کولای شئ چي د GBL تمريني آزموينه د TIN کوډ په مرسته چي د GBL زدکړي په پارسل کي ده سرته ورسوئ.

### د TIN کوډ

د تمريني آزموينې د سرته رسولو لپاره تاسو دوه سلسله شميرو ته اړتيا لرئ: يوه د تليفون شميره او يوه د آزموينې د مونډلو ځانګړي شمېره (د TIN کوډ). د تليفون د شميرې په مرسته به تاسو هغه کمپيوټر ته چي غږ پکښي ثبت دی او تمريني آزموينه اخلي تليفون کوئ. د TIN کوډ په مرسته تاسو خپل ځان کمپيوټر ته ورمعرفي کوئ ترڅو هغه ستاسو څخه تمريني آزموينه واخلي. د تمريني آزموينې لپاره بايد تاسو د کوډ شميره ووهئ. د اصلي آزموينې په مهال به د سفارت کارکونکی تاسو ته دا کار سر ته ورسوي. کله چي تاسو غواړئ د انټرنټ له طريقه د تمريني آزموينې په نتيجي باندي پوه شئ بيا TIN کوډ ته اړتيا لرئ.
پدې پارسل کي د TGN يوه تمريني آزموينه ده او په يوې ځانګړې پاڼي کي د تليفون شميره اود TIN TGN کوډ ليکل شوی ده. د GBL تمريني آزموينه د ځو بيلابيلو پاڼو ځخه جوړه شوې ده چي په هغې کي د تليفون شميره او د GBL TIN کوډ ليکل شوی دی.

د پام وړ: په پارسل کي دوه تمريني آزموينې د TGN دي او دوه تمريني آزموينې د GBL دي. يعنی د هرې آزموينې لپاره تاسو کولای شئ چي درې ځله تمرين وکړئ. د TIN کوډونو ځخه هغه مهال کار واخلئ کله چي تاسو په خپل ځان باندي پوره باور پيدا کوو کړئ چي چمتو ياستئ.

### کله چي تاسوغواړئ تمريني آزموينه سرته ورسوئ څه بايد وکړئ؟

- لاندني لارښودنه په آرامه ولولئ، بيا به پدې پوه شئ چي څنګه آزموينه سرته ورسوئ. تاسو د لارښودنو ځخه هغه مهال کولای شئ چي کار واخلئ کله چي کمپيوټر ته زنګ وهئ، مګر دا ضروری نده. څکه چي کمپيوټر خپله تاسو ته وروسته دقيق وايي چي څه وکړئ.
- ښه به دا وی چي تاسو د يو ثابت تليفون (دکور تليفون) ځخه چي دکمي ولری کار واخلئ. کچيرې د موبايل تليفون په ذريعه اړيکي ټينګي کړئ کيدای شي چي د کرښي کيفيت د قناعت وړ نه وي. ښه به دا وی چي تاسو د سکايپ او يا کومه بله انټرنټي وسيلي په مرسته اړيکي ونه نيسئ. کچيرې تاسو د موبايل تليفون اويا سکايپ په مرسته اړيکي ټينګي کړئ، کيدای شي چي د تمريني آزموينې په مهال ستاسو اړيکي يو ناڅاپه قطع شي، يا کيدای شي چي د آواز کيفيت ښه نه وي. دا هم کيدای شي چي د تمريني آزموينې لپاره تاسو ته هيڅ نمرې درنکړي. دا موضوع د تليفوني اړيکو بيلابيل کيفيت پورې اړه لري. ثابت تليفون اصولاً د آواز ښه کيفيت لري ترڅو د هغې په مرسته تمريني آزموينې سرته ورسيږي.

- دا مهمه ده چې ستاسو غږ ښه واوریدل شي. دا لازمه ده چې په لوړ آواز او په واضیح توګه خبرې وکړئ.
- د یو آرامه ځای څخه زنګ ووهئ، چیرته چې څوک تاسو ته مزاحمت ونکړئ او کوښښ وکړئ چې د داسې یو ځای څخه خبرې وکړئ چیرته چې ستاسو په شا او خوا کې لوړ آوازونه نه وي.
- تلیفون ښه خپلې خولې ونیسئ، لکه څنګه چې په تصویر کې لیدل کیږي.
- کچیرې ستاسو غږ په ښه توګه د اوریدلو وړ نه وی، بیا به کمپیوټر ستاسو تقاضا وکړئ چې تلیفون بند کړئ. پدې حالت کې تاسو کولای شئ چې د دویم ځل لپاره زنګ ووهئ. پدې حالت کې باید تاسو یو نوی TIN کود وکاروئ.



نه
ګوشی مو ډیره ټیټه او لیرې نیولې ده



هو
ګوشی پدې توګه خولې ته نږدې ونیسئ



هو
د ګوشی فاصله ستاسو د خولې څخه ښه ده

پام وکړئ: د تمریني آزمویني لپاره تاسو کولای شئ چې صرف یو ځل د TIN کود څخه کار واخلئ. کچیرې ستاسو تلیفوني اړیکې مخکې له وخته څخه قطع شي، تاسو نشئ کولای چې د عین کود څخه دوه ځله کار وخلئ.

پام وکړئ: د آزمویني پایلې یوازې هغه مهال تاسو ته درکول کیږي کله چې تاسو آزموینه په مکمله توګه سرته ورسوئ. کچیرې تاسو مخکې د آزمویني د پای څخه تلیفوني اړیکې قطع کړئ، بیا ستاسو آزموینه نه باطل ګڼل کیږي. تاسو باید دا هڅه وکړئ چې کمپیوټر تاسې وپیژني. هرکله باید یو څه ووایئ. کچیرې د کومې پوښتنې په ځواب نه پوهیږئ بیا کولای شئ چې ووایئ 'Ik weet het niet '

## د پایلې لاسته راوړل (لیدل)

وروسته له هغه چې تاسو تمریني آزموینه سرته ورسوله، کولای شئ چې پایلې د انټرنټ له طریقه ولټوئ. تاسو کولای شئ چې www.naarnederland.nl ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ او د 'uitslag oefentoets TGN/GBL bekijken' کښیکاږئ. ویب پاڼه به ستاسو څخه د تمریني آزمویني د TIN کود د لیکنې تقاضا وکړي (یوازې د TIN کود ۸ عدده). تاسو به وګورئ چې په تمریني آزمویني کې مو څو نمرې لاسته راوړې دي. ددې پایلې په بنسټ ستاسو وړتیا تاسوته معلومیږي او پدې پوهیږئ چې آیا تاسو په کافي اندازه ددې توان لرئ چې د TGN یا GBL آزمویني په بریالی توب سرته ورسوئ.

پام وکړئ: کچیرې ستاسو پایلې د تمریني آزمویني په ترڅ کې د قناعت وړ وي، بیا هغه پدې معنی نده چې په رسمي آزمویني کې به هم تاسو حتماً د قناعت وړ پایلې لاسته راوړئ.

## د TIN کودونو اضافي پارسل

کچیرې تاسو د پارسل ټول TIN کودونو کارولي وی او وغواړئ چې نور تمرینونه سرته ورسوئ، بیا کولای شئ چې یو اضافي  پارسل چې څلور داني TIN کودونه پکښې موجود دی راوغواړئ. پارسل پدې توګه جوړښت لری:

- دوداني TIN کودونه د TGN دوه تمریني آزموینو د سرته رسولو لپاره
- دوداني TIN کودونه د GBL دوه تمریني آزموینو د سرته رسولو لپاره
- دا لارښود پاڼې

تاسې کولای شئ چې اضافي  پارسل د TIN کودونو د www.naarnederland.nl د ویب پاڼې له طریقه وغواړئ.

## د TGN تمریني آزموینه

TGN د یوې سرلیکې او پنځو برخو ( A, B, C, D, E برخې) څخه جوړه شوې ده. د ځینو پوښتنې لپاره څو ځوابونه سم شمېرل کیږي. آزموینه ۵۱ دقیقې وخت نیسي.

په پیل کې داسې کیږي:

| پړاو | دا کار باید تاسو سر ته ورسوئ | دا حالت پېښیږي | دا هغه څه دي چې تاسو اورئ |
|---|---|---|---|
| ۱ | د تلیفون شمېره ووهئ (ډایل کړئ) (د آزموینې په فورمې کې پاس لیکل شوی ده) | کمپیوټر په هالیندي ژبه ځواب درکوی. | *"Dank u voor het bellen met het toetssysteem van Ordinate. Toets uw ToetsIdentificatieNummer in."* |
| ۲ | په تلیفون کې د خپل د TIN TGN کوډ ووهئ (ډایل کړئ). (د آزموینې په فورمې کې پاس لیکل شوی ده) | کله چې تاسو د TIN TGN کوډ ووهئ (ډایل کړئ)، بیا به کمپیوټر د کرښې کیفیت کنټرول کړی چې ښه ده او که نه. | *"We testen eerst het geluid. Zeg alstublieft de naam van de stad en van het land waar u nu bent."* |
| ۳ | د خپل د ښار او هیواد نوم په واضح توګه واخلئ. تاسې کولای شئ چې د یو بل ښار او هیواد نوم واخلئ. کچیرې تاسو په کافی اندازه په لوړ آواز خبرې ونکړئ، بیا ستاسو څخه هیله وشي چې د دویم ځل لپاره خبرې وکړئ. | کمپیوټر ستاسو د آواز وضاحت کنټرول کوی. | *Volg nu de instructies bij deel A tot en met E.* |

**وروسته له دې آزموینه په خپله پیل کیږي.**

**د A برخه: تکرار کول**
تکرار کول. تاسو هر ځل یوه جمله اورئ. دا جمله تاسو دقیق په هغه توګه چې اورئ، بیرته تکرار کړئ.
د بیلګې په توګه:'Dat is een mooi verhaal'
پدې توګه تاسو هم دا جمله 'Dat is een mooi verhaal' تکرار کړئ.

هڅه وکړئ چې نه یوازې کلیمې په دقیقه توګه تکرار کړئ مګر طریقه د خبرو کولو مو هم باید دقیق وی. ژر تلفظ کړئ او مه مشکوک کیږی.

**د B برخه: پوښتنې**
تاسو هر ځل یو لنډ پوښتنه اورئ. د هرې پوښتنې په وړاندې یو لنډ ځواب ورکړئ.
د بیلګې په توګه: تاسو اورئ چې 'Als je thee zet, gebruik je dan heet water of gebruik je koud water?'
تاسو په ځواب کې وایئ: 'heet water' یا 'heet'.

یا تاسو اورئ چې: 'Een auto, heeft die twee wielen of vier wielen?'
تاسو په ځواب کې وایئ: 'vier' یا 'vier wielen '

**د C برخه:** تکرار کول (د A برخې په توګه)
تاسو هر ځل یوه جمله اورئ. دا جمله تاسو دقیق په هغه توګه چې اورئ، بیرته تکرار کړئ.
د بیلګې په توګه تاسو اورئ چې: 'Dat is een mooi verhaal'
پدې توګه تاسو هم دا جمله 'Dat is een mooi verhaal' تکرار کړئ.

**د D برخه: تناقض:**
تاسو هر ځل یوه کلمه اورئ. تاسو ددي کلمي معکوس کلمه ووبئ.
د بیلګي په توګه: تاسي اورئ: ‘Hoog’
په ځواب کي باید چي ‘Laag’ ووبئ.

یا تاسي اورئ: ‘niet’
په ځواب کي باید چي ‘wel’ ووبئ.

د **E** برخه: قصي او د هغه تکرار کول
تاسو یو لنډه قصه اورئ. تاسو باید دا لنډه قصه لکه څنګه چي اوریدلي مو ده بیا ووایئ. ددي کار لپاره تاسو ته ۳۰ سانیي وخت درکول کیږي. هڅه وکړئ چي تر هغه اندازي پوري چي امکان ولري ووایئ.
د بیلګي په توګه دا پوښتني په خپل فکر کي وساتئ: چا ونده درلودله؟ څه واقع شول؟ چیرته پیښ شول؟ او څنګه ختم شو؟

پدي توګه باید تاسو دوه قصي تکرار کړئ.

**په پای کي تاسو اورئ:**
*‘Dank u voor het bellen. U kunt nu ophangen.’*
تاسو کولای شئ چي تلیفون بند کړئ.

## د GBL تمریني آزموینه
GBL د یوي سرلیکي او پنځو برخو ( A, B, C, D, E برخي) څخه جوړه شوي ده. د GBL آزموینه ۲۰ دقیقي وخت نیسي.

**په پیل کي داسي کیږي:**

| پړاو | دا کار باید تاسو سر ته ورسوئ | دا حالت پیښیږي | دا هغه څه دي چي تاسو اورئ |
|---|---|---|---|
| ۱ | د تلیفون شمېره ووهئ (دایل کړئ)<br>(د آزموینې په فورمي کي پاس لیکل شوی ده) | کمپیوټر په هالیندي ژبه ځواب درکوی. | *‘Dank u voor het bellen met het toetssysteem van Ordinate. Toets uw ToetsIdentificatieNummer in.’* |
| ۲ | په تلیفون کي د خپل د **TIN GBL** کوډ ووهئ (دایل کړئ).<br>(د آزموینې په فورمي کي پاس لیکل شوی ده) | کله چي تاسو د **TIN GBL** کوډ ووهئ (دایل کړئ)، بیا به کمپیوټر د کربښي کیفیت کنټرول کړی چي ښه ده او که نه. | *‘We testen eerst het geluid. Zeg alstublieft de naam van de stad en van het land waar u nu bent’.* |
| ۳ | د خپل د ښار او هیواد نوم په واضح توګه واخلئ.<br>تاسي کولای شئ چي د یو بل ښار او هیواد نوم واخلئ.<br>کچیری تاسو په کافی اندازه په لوړ آواز خبری ونکړئ، بیا ستاسو څخه هیله وشی چي د دویم ځل لپاره خبري وکړئ. | کمپیوټر ستاسو د آواز وضاحت کنټرول کوی. | *‘Volg nu de instructies bij deel A tot en met E’.* |

**وروسته له دې آزموینه په خپله پیل کیږي:**

**د A برخه: لغتونه**

د آزموينې په کتاب کې يو لست د لغتونو موجود دی. د هر يو لست لغتونه په لوړ آواز ولولئ. تاسو کولای شئ چې وروسته له پيپ غږ څخه د لغتونو لوستل پيل کړئ.

| Voorbeeld<br>Woordrij A |
|---|
| en |
| de |
| ook |
| bal |
| wil |
| zee |
| ham |
| boom |

**د B برخه: جملې**

د آزموينې په کتاب کې جملې ليکل شوی دي. دا جملې وروسته له پيپ غږ څخه په لوړ آواز ولولئ.

| Voorbeeld<br>Zin A | |
|---|---|
| A | Mijn zoon is een lieve jongen. |

**د C برخه: مضمونونه**

د آزموينې په کتاب کې مضمونونه ليکل شوی دي. دا مضمونونه وروسته له پيپ غږ څخه په لوړ آواز ولولئ.
په عادی سرعت ولولئ، يعنی چې په نه کرار او نه په چټکتيا. هڅه وکړئ چې سهوه ونکړئ. د هر مضمون لپاره تاسو ته ۰۳ سانيې وخت ټاکل کيږي. کيدای شي چې پدې موده کې تاسو لوستل پای ته نوی رسولي. دا فرق نکوی.

**Voorbeeld**
**Tekst A**

Tamar gaat naar de tandarts.

Zij heeft pijn aan haar kies.

Tamar is bang voor de tandarts.

De tandarts kijkt in haar mond.

Tamar heeft gelukkig alleen maar een gaatje.

Ze is blij als de tandarts klaar is.

Ze heeft nu geen pijn meer.

**د D برخه: د جملو تکميل کول**

د آزموينې په کتاب کې جملې ليکل شوی دي. د هغو درېو کليمو څخه چې د جملې په پای کې ليکل شوی دی يوه سمه کلمه انتخاب کړئ. وروسته له پيپ غږ څخه جمله د سمې کليمې سره په لوړ آواز ولولئ.
تاسو ووايئ چې: *'Het is mooi weer. De zon schijnt'*

| Voorbeeld<br>Zinnen A | | |
|---|---|---|
| A | Het is mooi weer. De zon ... | loopt<br>regent<br>schijnt |

**د E برخه: مضمونونه د پوښتنو سره**

د آزموينې په کتاب کې مضمونونه او پوښتنې ليکل شوی دي. وروسته له پيپ غږ څخه تاسو مضمون او پوښتنې پرته له آوازه (په خپل زړه کې).
تاسو کولای شئ چې د پنسل يا قلم څخه د ياداشت اخيستلو لپاره د آزموينې په کتاب کې کار واخلئ. وروسته له دې بيا تاسو د پيپ آواز اورئ او بيا پوښتنې وړاندې کيږي. د هرې پوښتنې په وړاندې وروسته له يو لنډ پيپ غږ يو لنډ ځواب ورکړئ.
د a پوښتنې ځواب ده: *'woensdag'*
د b پوښتنې ځواب ده: 'bus' يا 'met de bus'

**Voorbeeld**
**Tekst A**

Mevrouw Jansen wacht samen met mevrouw Bol op de bus naar de stad. Er is vandaag markt in de stad. Elke week gaan mevrouw Jansen en mevrouw Bol samen naar de markt. Wat gaan ze vandaag kopen? Niets. Ze gaan naar de markt, omdat het leuk is. Dat doen ze elke woensdag.

Vragen
a. Op welke dag gaat mevrouw Jansen naar de stad?
b. Hoe gaat mevrouw Jansen naar de stad?

**په پای کې تاسو اورئ:**

*'Dank u voor het bellen. U kunt nu ophangen.'*

تاسو کولای شئ چې تليفون بند کړئ.

## ۸ . اضافی معلومات

www.naarnederland.nl ويب پاڼي له طريقه تاسو کولای شئ چې نورو بيلابيلو ګڼه ورو ويب پاڼو ته لاره پيدا کړئ، چيرته چې تاسو اضافی معلومات کولای شئ لاسته راوړئ. همداشان تاسو کولای شئ چې ددې پارسل او آزموينې په هکله د پوښتنو ځوابونه پيدا کړئ.

### د بهرنيو چارو وزارت:

کچيرې تاسو د نوم ليکنې، د پيسو د تحويلولو او د هالينډي ژبې او ټولنې د پيژندلو د آزموينې په برخې کې پوښتنې ولرئ، کولای شئ چې د بهرنيو چارو وزارت دهالينډي ژبې او ټولنې د پيژندنې خانګې سره تليفوني اړيکې ټينګه کړئ.

د هالينډ څخه د تليفون شميره: ۴۴۸۴۸۴۳(۰۷۰) د۹:۰۰ بجو څخه تر ۰۳:۲۱
د بهر څخه د تليفون شميره: +۴۴۸۴۸۴۳۰۷۱۳ د ۹:۰۰ بجو څخه تر ۰۳:۲۱
د بريښنا ليک پته: examenineburgering@minbuza.nl
انټرنټ:www.minbuza.nl

ولوکرو د ېنيووزآ د هقیرط له نوفیلت د ېکناخ د ېندنژیپ د ېنلوت او ېبژ يدنیلاهد چې ىلاوک شئ: تاسو وکړئ همرلپاپ
ىش ىکیادق هقیرط له ىرګکلسنوق ای او ترافس د ىزاوی راک اد .ئکاتپو تخو مراپل